الله - جل جلاله - ته تر ټولو محبوبې ويناوې څلور دي: سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ، دا مهمه نده چې تاسو په کومه يوه پيل کوئ

له سمرة بن جندب رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: "الله - جل جلاله - ته تر ټولو محبوبې ويناوې څلور دي: سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ، دا مهمه نده چې تاسو په کومه يوه پيل کوئ".

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې الله جل جلاله ته تر ټولو محبوبې ويناوې څلور دي: سبحان الله: دا له هر نيمګړتيا څخه د الله تعالى پاکوالى دى. او الحمد لله: دا په بشپړ کمال سره د الله تعالى يادول دي؛ د هغه له محبت او لوې سره. او لا إله إلا الله: يعني دا چې له الله پرته په حقه بل معبود نشته. او الله أكبر: يعني تر ټولو لوى او تر هر شي عزتمن ذات دى. او دا چې فضيلت او د ثواب ترلاسه کول يې په ترتيب سره تلفظ ته اړتيا نه لري.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5475